نظر محمد مطمئن

۲۰۱۶/۰۱/۲۲

# د پګواش دوېمه ناسته او د سولې امیدونه

د پګواش نړیواله اداره چې د سولې اړوند په نړۍ کې کار کوي، په ځینو هیوادونو کې یې ښه نتیجه ورکړې ده، دوی د افغانستان د سولې هڅې پیل کړې، د کاناډا او امریکا ملاتړ له ځان سره لري، او د ځینو هیوادونو څخه د افغانستان د سولې اړوند مالي مرسته ترلاسه کوي.

د پګواش له نوم سره افغانان د ۲۰۱۵ ز کال د مې میاشت کې هغه وخت ډېر آشنا شول چې په دوحه کې یې د طالبانو او افغان سیاستوالو شریکه ناسته ترتیب کړې وه. لومړی ځل وو چې د طالبانو اته کسیزې ډلې په کانفرانس کې ګډون وکړ، او د افغان سیاستوالو سربېره افغان میرمنو هم په کانفرانس کې ګډون درلود.

هیله بخښوونکې کانفرانس وو، افغانانو ډېرې هیلې او امیدونه لرل چې دا لړۍ به دوام پیداکړي، ځکه لومړی ځل وو چې افغانانو مخامخ خپل اندیښنې او غوښتنې سره شریکې کړې، یواځې د ملګرو ملتونو استازي پکې وو، د ګاونډیو هیوادونو او نورو هیوادونو کسان نه وو، که څه هم پاکستان هیواد ډېره هڅه کړې وه چې خپل کسان د پګواش لومړي کانفرانس ته ولیږي ولې ونه توانیدل.

دغه لړۍ هغه وخت ټکنی شوه چې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر مجاهد د مرګ خبر افشاء شو، او پوره نه میاشتې د پګواش دویم کانفرانس وځنډیدی.

د پګواش دویمه غونډه، دوحه:

داځل د کانفرانس ګډونوال ډېر دی، د افغانستان سربېره له امریکا او اروپا څخه هم افغان سیاستوال او افغان میرمنې کانفرانس ته غوښتل شوې. داځل به هم پر دې بحث کیږي چې څه ډول د افغانستان جګړه پای ومومي او افغانان د یوې ربښتونې سولې ورځ وګوري.

له دې مخکې همدا ډول کانفرانس د جاپان د کیوتو ښار په دوشیشا پوهنتون کې په ۲۰۱۲ ز کال کې او له هغه وروسته ورته کانفرنس په فرانسه کې جوړ شو، مخکنیو کانفرانسونو ښه نتیجه درلوده، د طالبانو، اسلامي حزب، او افغان بېلابېلو ډلو استازو پکې ګډون کړی و، هڅه کېدله؛ طالبانو او افغان سیاستوالو غوښتل چې دغه ډول کانفرانسونه دوام پیداکړي، ولې دهغه وخت افغان حکومت یې مخه ډب کړه، او په ترکمنستان کې یې د دغه ډول کانفرانسونو په لړ کې پلان شوي کانفرانس کې خپلو استازو ته د ګډون اجازه ورنه کړه، همهغه و چې د کانفرانسونو لړۍ ودریدله او د ترکمنستان کانفرانس سبوتاژ شو.

د پګواش د لومړي کانفرانس سره هم اوسنی ولسمشر غني یو ډول پټ مخالفت ښکاره کړ، خو د بېلابېلو لاملونو له امله یې د افغان سیاستوالو د ګډون مخه ونه نیوله.

ویل کیږي اوس چې په قطر هیواد کې د پګواش اداري له خوا د افغانانو دوېمه ناسته کیږي، بیا هم ولسمشر غني یې مخالفت کوي، خو معصوم ستانکزي هڅه وکړه چې د پګواش اداري او غني ترمنځ شخړه د کانفرانس له امله ونه شي.

انګیرل کیږي چې د دغسې کانفرانسونو مخه به هم په راتلوکي کې پاک – افغان حکومت په ګډه ونیسي، ځکه افغان حکومت سولې ته ژمن نه دي او پاکستان غواړي چې نړیوالو ته وښیې پرته له پاکستان څخه سوله ناشونې ده.

پګواش غونډه، دوبۍ:

پګواش اداري په دوبۍ کې په ۲۰۱۲ زکال کې ورته کانفرانس درلود، چې په هغه کانفرانس کې د ملامعتصم آغا جان ملګرو د طالبانو په نوم ګډون کړی و، نتیجه یې ځکه ورنه کړه چې پګواش د قطر د طالبانو سره اړیکه نه وه نیولې.

په ۲۰۱۲ ز کال کې د پګواش کانفرانس چې دوبۍ کې جوړ شوي وو، لاندې کسانو پکې ګډون درلود:

سیاسي کار پوه احمد وحید مژده، ضیاء بومیا، فیض الله ذکي د جنبش (دوستم) استازی، سنچارکي او ولولجي د متحدي جبهي عبدالله عبدالله استازي، استاد ابو الاحرار د حزب اسلامي حکمتیار استازی، چې ډاکټر غیرت بهیر رد کړی و، وروسته همدا سړی په کابل کې د پګواش مشاور و، عنایت الله کاکازاده او سمیع الحق د طالبانو(آغاجان معتصم) استازي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خلیل الله صافی چې ځان یې طالبانو ته نږدې معرفي کاوه، اوس د پګواش استازي کابل کې دی، او د سولې اړوند یې ځینې پروژې هم له بهرنیانو څخه ترلاسه کړي او کار یې کړی.
ډاکټر هاشم له ترکیې څخه ،سردارمحمد رحیمي هزاره د ائتلاف جبهې غړی، رستم شاه مهمند او بریګیډر سعد د پاکستان استازي.
مایکل سمپل چې افغان حکومت پرې د جاسوسي تور لګولي و او رابین رافیل د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پخواني مرستیال هم ګډون کړی و.

د ګډونوالو له لست څخه د ځینوکسانو حذفول:

تیرځل او داخل پاکستان او افغان ولسمشر موافق نه وو چې په قطر کې دغه ډول کانفرانس جوړشي، تیر ځل پاکستان هڅه کوله چې رستم شاه مومند او زاید او یا اسد دراني او شجاع پاچا په کانفرانس کې ګډون وکړي، ولې ونه توانیدل.
د پاکستانیانو د ګډون له پاره خلیل الله صافی چې افغانستان کې د پګواش استازی دی، ډیره هڅه یې کوله او ټول معلومات یې په پټه پاکستاني سیاستوالو ته ورکول.
اوس چې د جنوري په ۱۱مه اسلام آباد او ۱۸مه کابل کې د سولې اړوند خلور اړخیزې ناستې وشوې، نو ځکه پاک – افغان حکومت په قطر هیواد کې د دغسې یو کانفرانس سره په پټه مخالفت کاوو، ولې داچې مخکې له مخکې پګواش ترتیبات نیولې وو، او پوره یوه نیمه میاشت مخکې افغان حکومت د ځینو لاملونو له کبله ورسره منلې وه چې د آزادو افغانانو ګډون په کانفرانس کې مخالفت به نه کوي، بل داچې پګواش نړیواله قوي اداره ده نو ځکه خو دوهم کانفرانس هم د جنوري په ۲۳مه په دوحه کې کیږي.
تیر ځل هم د ځینو په لاسوهنه د ګډونوالو له لست څخه په نړیواله سطحه د پیژندل شوې پخواني ډیپلومات ملا عبدالسلام ضعیف نوم لیرې کړل شو، دا ډول بهرنیو چارو پخواني وزیر مولوي وکیل احمد متوکل له پاره هم په کانفرانس کې د ګډون له پاره خنډ ځکه پیدا شو له کابل څخه تر پرواز یواځې دوه ساعته مخکې خلیل الله صافي په کانفرانس کې د ګډون خبر ورکړي و او ورته یې ویلي و چې ستاسې ټکټ او اسناد چمتو شوې.
دا ډول احمد وحید مژده چې د افغانستان او سیمې په کچه د سیاسي چارو کارپوه دی، هغه هم تیر ځل په پګواش کې له ګډون څخه محروم شو.
خلیل الله صافی چې پرې تور دی چې د ځینو هیوادونو سره په پټه اړیکې لري، مژده صاحب ته ویلي وو چې دده د نه ګډون لامل استاد ابوالاحرار دی، ولې وروسته معلومه شوه چې ستونزه خپله صافي صاحب جوړه کړې وه.
اوس چې دوهم ځل پګواش کانفرانس په دوحه کې کیږي، لومړنی لست ۴۵ افغانان وو، چې وروسته دغه کچه ۳۰ تنو ته راټیټه شوه، بیا هم دتیر په څیر خلیل الله صافی وتوانیدی چې د پګواش اداري ته د ځینو نومونو په لیرې کیدو کې رول ولوبوي.
دا ډول دوی وتوانیدل چې داخل پاکستانیانو ته هم په کانفرانس کې د ګډون له پاره زمینه برابره کړي. ویل کیږي چې ځینې پاکستاني سیاستوال به هم داخل کانفرانس کې ګډون ولري.
دا ځل به بیا هم نه ملاعبدالسلام ضعیف، نه مولوي وکیل احمد متوکل او نه هم احمد وحید مژده په کانفرانس کې ګډون ولري، حال داچې همدا نومونه په ترتیب شوې لست کې وو، مژده صاحب ته خو د الوتکې ټکت هم ورسیدی، او هرځل ورته ویل کیدل چې ستونزه نشته، ولې ګمان کیږي چې هغه اسرار چې په ۲۰۱۲ کې مژده صاحب د خلیل صافي اړوند په دوبی کې پیداکړي، صافی ویره لري چې په دغسې کانفرانسونو کې د مژده ګډون به د هغه اصلي څیره بربنډه کړي.
تیر ځل هم ویل کیږي د طالبانو د سیاسي کمیسون غړي پوهیدلي وو چې ځینې کسان په لوی لاس په کانفرانس کې له ګډون کولو څخه محروم شوې، همدا ستونزه یې د پګواش کانفرانس له اداري سره شریکه کړې وه، خو دادی دوهم ځل بیا له یوه غار څخه وچیچل شول.

پګواش ته څه کول په کار دي:

د پګواش اداري ته په کار ده چې دغسې مهمو مسایلو کې باوري او بې طرفه کسان وګماري، داسې کسان چې د نورو هیوادونو له پاره کار کوي، او یا خپلې شخصي عقیدې ساتي او یا د سولې په نوم له یوناما او نړیوالو څخه پروژې ترلاسه کوي، پرته له شکه د ګټې پر ځای د سولې بهیر ته تاوان کوي.
یوځل خو همدې خلیل الله صافي دومره مهارت هم کړی و چې د کوم مهم هیواد استازو ته یې ویلي وو چې طالبان غواړي له تاسي سره مخامخ خبرې وکړي، داډول طالبانو ته یې ویلي وو چې هغه هیواد غواړي له تاسي سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

خبرې وکړي، کله چې ناسته ترتیب شوه، هغه هیواد طالبانو ته ویل چې خبره پېل کړئ تاسي د ناستي غوښتنه کړي وه، طالبانو ورته ویلي وو چې اصلاً خو تاسي د ملاقات غوښتنه کړي، وروسته خبره ښکاره شوې وه چې صافي صاحب همدا ناسم رول لوبولي و.

تیر ۲۰۱۵ ز کال کې داسي پټ راپوررونه هم ورکول شول چې تأید نه شول، خلیل الله صافي په دوبی کي د طالبانو د استازي یا پیغام رسونکي په نوم له روسانو سره پټي لیدني درلودلي.

د سولي له پاره باوري او اخلاص لرونکي کسان په کار دي، په فساد کي ککړ کسان د دي پر ځای چې سولې خبرې مخکي یوسي زیان رسوي، او خلک د سولي په دغو کانفرانسونو هم بې باوره کوي.

داسي راپورونه شته چې صافي صاحب ډېرو کسانو ته ژمنه ورکړي وه چې له یوناما څخه به ورته پروژې اخلي او له هغوی څخه یې مخکي له مخکي پیسي اخستي وي. ځکه هغه د یوناما سره هم د سلاکار دنده درلودله، او یا خو ممکن ورسره قراردادي و.

د جمیل ټراول ایجنسي اداره وايي چې څو کاله وړاندي یې له یو هودخیل تجار څخه یو لک ډالر وړي چې هغه ته به له یوناما څخه د میلیونو ډالرو پروژه اخلي اوس هم هغه پیسي ورسره پاتي او ځان په لاس نه ورکوي.

تر څو چې د سولي له پاره ناپیلي او ژمن افغانان کار ونه کړي، دغه ډول کسان چې د نورو هیوادونو له پاره کار کوي او یا د هغوی په وساطت له ځینو هیوادونو سره د طالبانو په استازیتوب خبرې کوي، یا د سولي په نوم د پروژو اخستلو هوډ لري، څه ډول به باور پري وشي.

همدا ځیني خبرې مې نږدې ۶ میاشتي مخکي له صافي سره پر تلیفون او پیغام هم وکړي او هیله مې ورڅخه کړې چې د افغان ولس مظلومیت ته په کتلو سره د سولي له پروسي څخه د سولي د پروژې په ډول کار وانخلي ولي دادی بیا هم په خپلو ناسمو اهدافو کي مخکي روان دی، مهم افغان سیاستوال د پګواش غونډې له ګډون څخه محروم او پر ځای یې پاکستانیان وربلل شوي.

امید دی چې پګواش اداره په دي اړه فکر وکړي داسي افغانان خپل استازي وګماري چې هغوی د سولي له پاره په رښتوني ډول کار وکړي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ